مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید همایون ولسي ۲۰۲۲/۰۲/۲۷

لوی احمدشاه بابا

چې مې واړوه هـر ورقـه د قاموس
ستا د تـوري او قلـم وه اوقیانوس

ستا عقل پوهـــه نـه و زمانـــه کې
تـه د عصـــر افلاطون او جـالـینوس

ته د جنګ په قابلیت سر و سامان کې
همپایـــه د اسکنـــدر او بطلمـیوس([1])

تـا پـه عـــزم اراده وطـن آزاد کـړ
تا "ایشیا" و لرزولـه په خپل جلوس

ستا د تـوری بـریښنا په هـره خـوا وه
په ډهلي په اصفـهان په ترک او روس

چې پـه سپکـه چـا کـتلي پـدي لـوري
تا پر مخ بانـدی وهلـی هـر منحوس

سلامت درنـه څوک نـه تلـه لـه میدانه
کـه راغلـی وای رستم یـا کیکاوس

د وطن د عشق لمبه دي وه په زړه کې
چې بلیـــږي ستا د شعـر پـه فـانـوس

په ریښتیا د افغـان لـوی حـق دار یې
تـا ساتلـی د افغـــان ننګ او ناموس

چـې و تـا تـه بدویـــږي مشکوک دی
یا خو غیر دی یا د غیرو دی جاسوس

هغه تیر دوران به بیا په مونـږه راشي
که مونږ نه شو خپلو کړنو کې مایوس

دا طالـع به ښـکاره شـي دې تیـارو کې
په آسمان کې لکـه ستـوری د اورانوس

داقبال مارغه به بیا په دام کې ګیر شي
کـه مونـږ پاڅیـږو لـه خوبـه د کابوس

[1] ـ بطلمیوس یکی از سرداران اسکندر کبیر و از اهالی مقدونیه بود. دودمـان بطلمیوسی چهـارده نفر از پادشاهـان مصر را گویند که بعد از مرگ اسکندر در مصر حکومت کردند و بنام بطالسه شهرت یافتند

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ